ع، ابراهيمي

۲۰۱۶/۱۰/۱۹

د ښارونو سقوط او د چارواکو سکوت!

د امریکا متحده ایالتونو په مشرۍ د نړۍ ۴۷ هېوادونو د ناټو او ایساف په چوکاټ چې اسلامي هېواد هم په کې شامل و په ۲۰۰۱ عیسوي کال کې د نظامي، سیاسي، استخباراتي او اقتصادي مرستو په پارد کابل په خاوره قدمونه کېښول.
دا هغه وخت چې نوی د طالبانو رژیم پرځول شوی و او موقته اداره د پخواني ولسمشر حامدکرزي په مشرۍ پیل شوې وه.
دې هېوادونوپه افغانستان کې د سیاسي، نظامي او اقتصادي سکتورونو د پیاوړتیا لپاره په ګډه تلاشونه پیل کړل، ولې متاسفانه څنګه چې لازمه وه، دلته مثبت بدلونونه چې ټولې نړۍ ته یوه نمونه وای تر سترګو نه شول، نظامي مسوولینو ددې پرځای چې بنسټیزې مرستې، همکارۍ او تمرینات تر لاسه کړې یوازې یې د ستاینلیکونو، ماشینۍ رتبو اخیستو او شخصي امکاناتو تر لاسه کولو باندې بسنه وکړه.
د تېرو تېروتنو او بدبختیو نتیجه نن ګورو، چې هره ورځ سلګونه افغان مظلوم بچې شهیدان کېږي، ټپیان کېږي، ماشوم یتیمان، ښځې کونډې او مینډې بورېږي.
همدې ماشینۍ جنرالانو که پر وخت د نړیوالو له امکاناتو څنګه چې لازمه وه ګټه پورته کړې وی، نن به له یوه طرفه ملي امنیتي، دفاعي او کشفي ځواکونه پر ځان بسیا او بل لوري ته به د داسې بدبختیو او ناامنیو شاهدان نه وای، دلته که له یوه طرفه ستونزه پر ځای پاتې ده، بل لوري ته استخباراتي او نظامي ستراتیژي چورلټه له پښو غورځېدلې ده.
یو شمېر شنوونکي پدې اند دي چې په هېواد کې د ناسمې ستراتیژۍ او پالیسۍ له مخې د افغان ځواکونو او ملت په خلاف جنګ د باندې، غرو او لیرې پرتو ساحو څخه تر ولسوالیو او حتی د لویو ښارونو تر مرکزه را رسېدلې ده.
بل لوري ته هغه سرتېري چې د جنګ په لومړیو کرښو کې د دښمن په خلاف یې سنګرونه ګرم ساتلي د هغوئ حقه حقوق د کابل مېشتو مشرانو او چارواکو له لوري تر پښو لاندې کېږي، دلته هغه ډول چې لوژستیکي قرارداد تر سره شي په هماغه ډول د جنګي سنګر سرتېري ته خوراکي مواد نه رسېږي، هر یو ماشینۍ جنرال خپل وند اخلي.
د نظامي چارو کارپوهان پدې باور دي، چې په امنیتي ارګانونو کې سلیقوي برخورد بل هغه څه دي چې د سرتېرو په مرال یې منفي تاثیرات پرې ویستي دي، ځکه خو جنګونه تر ولایاتونو او لویو ښارونو رارسېدلي دي، خو یو شمېر نور بیا په دې اند دي چې دلته شته داسې قوماندانان چې د پیسو تر لاسه کولو په خاطر سرتېري، مهمات، زرهي دار ټانګونه او نور خرڅوي چې بالاخره جنګ تر ښارونو رسیدلي او حتی د څو ورځو لپاره یې لوی ښارونه سقوط کړي هم دي.
د دې هر څه سربېره د ولسي جرګې، ولایتي شوراګانو او ځایي چارواکو له لوري د امنیتي ادارو مسوولین تر تهدید لاندې نیول دي تر څو دوی، د دوی کورنۍ او ملګرو ساتنې په موخه سرتېري، سلاح او مهمات ورکړي، که چېرې د مسوولینو له لوري ورته منفي ځواب ورکول کېږي بیا نو ګوت څنډنه ورته کېږي چې څوکې او موقف به له لاسه ورکړي.
بله لویه ستونزه چې لا هم ورسره امنیتي، کشفي او دفاعي اداري مخ دي، هغه د سالم او قوي مدیریت نشتون، بې بندوباري، د قدرت انحصار، بېروکراسي او نه همغږي ده چې پایله یې د ولسوالیو او ښارونو په سقوط تمامېږي.
د دې لپاره چې هېواد د شته امنیتي ننګونو، ستونزو او نیمګړتیاوو خلاصون ومومي نو پکار ده، چې پورته خلاوو ته رسیده ګي وشي، هغه پلاوي چې د کندزو ښار، ولسوالیو او ماموریتونو د سقوط د پلټنې لپاره ګمارل شوي پایلې یې دې د ولس سره شریکي او هغه څوک چې پکې ګرم بلل شوی بې له خنډ او ځنډ نه دې مجازات شي.

د یو آباد، سوکاله او سمسور افغانستان په هیله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ